# "بیا به جهان راپسې ګورې نۀ به یمه"

# ولي خان سره دوه ملاقاتونه

م-ر- شفق

هسې خو ملي رهبر ښاغلې عبدالولي خان ما ډېر ځله د نزدې نه لیدلے اورېدلے ؤ خو خپل ژوند کښې مې ورسره مخ په مخ خبرې اترې دوه ځله شوې دي. دواړو ملاقاتونو کښې د هغۀ د خوږ دروند سپېځلي شخصیت تول اړخونه او رنګونه اغیزمن وو. خُلۀ لکه د سپرلي د غوړېدلي ګل د خندا ډکه، په شګفته لهجه کښې خبرې، په طبیعت کښې ئې د شوخۍ او ټوقې وشتې عکسونه برېښېدل. بیان کښې ئې د علمي ادبي او سیاسي پوهې بصیرت د پښتو ژبې تول خوارۀ او ترسکون والے، ښۀ په ځائے ځائے برسېره کېدل. په کومه مسئله به ئې چې د خیالاتو څرګندونه کوله یا کۀ د پوښتنو جوابونه ئې ورکول نو د بنده پوره تسلي به ئې کوله او هیڅ قسمه تکلف پکښې نۀ محسوسېدۀ.

د دې دواړو ملاقاتونو ورځ نېټه راته یاد نۀ شي خو د دې خوږ شائسته بنیادم او لوئے سیاسي لارښود او ادیب د خُلې خبرې د هېرېدلو نۀ دي. زۀ ئې کۀ ټکي په ټکي نۀ شم بیانولے خو زما حافظه ماسره دومره مرسته ضرور کوي چې د دغه ستر شخصیت د بیان مطلب او د خبرو مفهوم به تر ډېره حده په لوستونکو پېرزو کړم او کوم ملګري چې له خېره ژوندي دي او ما سره په دغو ملاقاتونو کښې موجود وو، هیله ده چې هغوي به ئې هم تصدیق وکړلے شي.

د دوو ملاقاتونو د تفصیل بیانولو نه اګاهو، کۀ زۀ دا خبره هم سپینه کړم نو بې مناسبه به نۀ وي چې د عظیم باچا خان او د ښاغلي عبدالولي خان شخصیتونو او ملي مبارزو، غورځنګونو سره زما د فکري او ذهني تړون معتبره حواله زما والد صاحب (مولانا عنایت الله) ؤ، څوک چې یو خاکسار طبع، باعمله عالم او په سوچه معنو کښې خدائي خدمتګار ؤ.

وړومبے ملاقات: د جرنېل محمدضیاءالحق واکداري وه، ښاغلے عبدالولي خان اسلام اباد کښې مسلم لیګي رهنما سردار شوکت حیات خان سره موټر کښې روان ؤ چې د استخباراتي ادارې یو درونـد ګاډے د دوي موټر سره وجنګېدو خو الله پاک ئې سر ته خېر پېښ کړو او دواړه مشران د څۀ قسمه حادثې نه بچ شول. بلا وه برکت ئې نۀ ؤ. دې لړ کښې د مردان څخه عبدالمجید خان ایډوکېټ (د طورو) عبدالحمید خان صاحب ایډوکېټ (مردان) حضرت بلال باچا ایډوکېټ (طورو) او ملګرے

پرویز اقبال (طورو) د خواخوږۍ په جذبه ولي باغ ته روان وو، زهٔ هم ورسره ملګرے شوم. د ماسپښين څهٔ دوه بجې به وې چې هلته ورسېدو، د ولي باغ نه بهر لوئے چوپال کښې ناست خلق مونږ ته د پخېر راغلي دپاره راپاڅېدل، دغو کښې يو مشر ما د کړهٔ وړهٔ نه وپېژندو چې د باچا خان خاص ملګرے احمد کاکا ؤ. هغهٔ چې کله ماسره جوړ تازه کول ما ورسره پېژندګلو وکړه چې زهٔ د طورو د مولانا صاحب عنايت الله کشر زوے يم نو دغه سور سپين کلک او صفا سپېځلے انسان ډېر خوشحاله شو او زهٔ ئې په تندي ښکل کړم او يو څو لحظو کښې ئې د هري پور جېل د مولانا سېد عنايت الله او مولانا سېد ګلباد شاه د قرآني درسونو ذکر وکړو. وئيل ئې دواړه د خطابت په فن کښې مړني وو خو د مولانا عنايت الله فقاهت او سنجيده استدلال به شاګردان په غوره ډول مطمئن کولي شو. دغه وخت عبدالمجيد خان اشاره وکړه چې د خان صاحب جيپ خو تيار ولاړ دے لکه چې چرته روان وي. زمونږ سوال جواب ورته شوے ؤ، څو لحظې پس ولي خان را بهر شو او په ډکه خُلهٔ خندا کښې ئې ووې "تاسو دلته ولې کښېناستئ دننه راځئ کنه!" مجيد خان ورته په جواب کښې ووې "ستاسو يو نظر ليدو له راغلي يو، دلته خبر شو چې تاسو د چا لاس نيوې له روان يئ". ولي خان بيا وخندل "دا خو زهٔ له سحره راهسې روان يم، څوک نه څوک مېلمانهٔ راشي نو بيا ايسار شم". بيا ئې زمونږ د تسلۍ دپاره ووې "نن د غم دربمه ورځ ده، خبر دے وروستو به حاضري وکړم".

حجرې ته ورننوتو، برنډه کښې چې کښېناستو نو ولي خان اول د چائې ډوډۍ کلک ست وکړو خو مجيد خان سکوټ منع کړو چې "نا! جي بس يوه شېبه ګړۍ ناسته به وکړو" پنځهٔ مونږ او څينې نور مېلمانهٔ هم د ولي خان نه يو خوا بل خوا او څينې ورته مخامخ په کرسيو کښېناستل. زهٔ ورته بېخي مخامخ ناست وم، خبره د مردان عبدالحميد خان ابډوکېټ پېل کړه چې "دا خو لويه حادثه په تاسو تېره شوه، شکر دے چې الله خير کړو، د حالاتو څهٔ اعتبار هم نهٔ دے پکار، تاسو له ضروري ده چې خپل باډي ګارډرز هم ځان سره بوځئ". ښاغلي ولي خان شګفته شو، وئيل ئې "بچے! د مرګ نه خلاصے نشته، زهٔ کهٔ هر څومره ځان پټ کړم خو کومه ګولۍ چې زما دپاره مقرره وي هغه به هم زما سر له راځي. ستاسو دا خبره راته وړمه ورځ د "جنګ" اخبار مدير اعلي هم کړي وه، وئيل ئې "خان صاحب! تاسو خو به د خفيه ادارو په طريقهٔ واردات پوهېږئ، الله مهٔ کړه کهٔ د ګاډو جنګېدو په دې بده پېښه کښې څهٔ مرګ ژوبله شوې وے نو دا به اتفاقي حادثه ګڼلې شوه او سرکار به سپين باز ګرځېدو". ما ورته ووې چې اوښان پالې نو دروازې به لويې ساتې. بله دا چې دا څهٔ اول ځل نهٔ دے خو څو ځله راباندې ګولۍ ورېدلي دي خو لا پوره به نهٔ وه نو.... او چې د قامي سياست دعويٰ کوو نو بيا به ئې په ډاګه کوو، لاسو ته بنګړي نهٔ شو اچولے چې کور دې کښېنو".

دغو ورځو کښې د ښاغلي عبدالولي خان کتاب "رښتيا رښتيا دي" لا چاپ شوے نهٔ ؤ خو انګازې ئې خورې وې. ورځپاڼو کښې په دغه بابله مخالفانه بيانونه او تبصرې شائع کېدلې او د ولي خان په شمله د تشو دارو ډزې وې چې کېدلې. ما ترې پوښتنه وکړه چې "کتاب لا مېنځ ته راغلے نهٔ دے او خلق مو خامخا وترول؟"

(په دې دوران کښې ورته عبدالمجيد خان زما په حقله اشاره وکړه چې زمونږ دا ملګرے ليک لوست سره تعلق لري نو ځکه ئې دا تپوس وکړو) ولي خان ماته متوجه شو وې وئيل:

"بچے! کتاب خو په افغانستان کښې د طباعت په اخري مرحلو کښې دے، ډېر زر به کۀ خېر وي را ورسي. زۀ چې د سترګو د علاج د پاره لندن ته لاړ شم نو د څۀ مودې راهسې په انډيا آفس لائبرېرۍ کښې د هغو ناوياته دستاويزاتو پلټنه هم کوم. ما د دغو کاغذونو نقلونه ځان سره راوړي دي، دغو کښې زيات مهم هاغه سرکاري دستاويزات دي چې برطانوي حکومت دېرش کاله پس په ډاګه کړي دي او اوس ئې هر څوک کتلے شي. په دې حواله صحافيان ورونه پوښتنې وکړي، زۀ ورته رښتيا رښتيا حال ووايم نو ياران په ځائے د دې چې د خبرې صحيح تحقيق وکړي او ځان په حقائقو پوه کړي ډمامو ته لاسکي واچوي او په ماپسې لګيا شي حالانکې زۀ دغو ښاغليو ته بلنه ورکوم چې کۀ تاسو په خپله لندن ته د تلو يا په بله طريقه د انډيا آفس لائبرېرۍ د دستاويزاتو د مطالعې بندوبست نۀ شئ کولے نو راشئ دغه څيزونه ټول ماسره پراتۀ دي، په خپله ئې وګورئ چې تسلي مو وشي او سترګې مو وغړېږي.

"رښتيا رښتيا دي" په اصل کښې د ولي خان د تحقيقاتي لړۍ "باچا خان او خدائي خدمتګاري" يوه کوټلي سريزه يا پېژندګلو ده او دې کښې هاغه ټول تراخۀ حقيقتونه په ډاګه شوي دي چې پېرنګي به د باچا خان او خدائي خدمتګارۍ تحريک چقولو او ناکامه کولو د پاره څنګه پټ او ښکاره سازشونه کول.

ولي خان په دغه موقع دا خبره هم وکړه چې "په هندوستان کښې د پېرنګي راج د دستاويزاتو ښکاره کېدو نه پس د تحقيق او لټون ضرورت هم پاتې نۀ شو او نۀ اوس د پېرنګي په "تالي څټو" د څۀ قسمه تور پورې کولو حاجت شته، ځکه چې پېرنګے په خپله وائي چې دا او دا کسان زما وظيفه خوارۀ وو، دوي به د باچا خان خلاف فتوې ورکولې او د خدائي خدمتګارو په لار کښې به ئې ازغي کرل".

ولي خان چې زما د پوښتنو په جواب کښې ښۀ پرله پورې بحث وکړو او بيا چُپ شو نو احمد کاکا ورته ورو غوندې ووې "ولي! دا هلک دې وپېژندو! دا د طورو د مولانا صاحب زوئے دے" په دې خبره ښاغلي ولي خان له خندا نه شين شو او د ټوقې وشتې په انداز کښې ئې "احتجاج" وکړو ماته ئې ووې:

بچے! تا خو ماسره پوره ګوته وکړو"

زۀ: جي! هغه څنګه؟

ولي خان بيا په خندا شو وئيل ئې "ګوره! تۀ چې د مولانا صاحب (عنايت الله) برخوردار ئې نو بيا دې زما څخه دا دومره تپوسونه څۀ له کول؟ مولانا صاحب ته خو دا ټول هر څۀ معلوم دي او کۀ شک دې وي نو بس هم دغه مولانا صاحب د حق معيار وګڼه!".

بيا چې مونږ د ولي باغ نه روانېدو نو ولي خان او احمد کاکا راسره جلب وکړو او په ډېره مينه ئې رخصت کړو.

دوېم ملاقات: د کال ۱۹۸۸ء اخري يا د ۱۹۸۹ء ورومبنۍ ورځې وې.

محترم بې نظير بوټو (شهيده) وزيراعظمه ټاکلې شوې وه، ښاغلے عبدالولي خان د قامي

اسمبلۍ غړې ؤ. زۀ په دغه ورځو کښې خپل خورئي سېد نذير الحق کريم سره د ستارو مارکيټ کښې د اوبو او برېښنا د ادارې په يو "سوغالي" کښې اوسېدم. افکار صاحب راسره انډيوال ؤ. يو ماسخوتن ايکي يواځې ناست وم په ريډيو مې خبرونه اورېدل. يو خبر دا ؤ چې "وزيراعظمه محترمه بې نظير بوټو د چين د دورې نه اسلام اباد ته رارسېدلې ده" بل خبر دا ؤ چې "بزرګ سياسي لارښودانو خان عبدالولي خان، نوابزاده نصرالله خان او قاسم ملک، وزيراعظمې بې نظير بوټو سره ګډه ملاقات وکړو". دې مهال کښې د ادبي سوسائټۍ چئيرمېن عبدالغني خان خټک راغے، وئيل ئې بهر ګاډے ولاړ دے ايم اين اې هاسټل ته د ولي خان ملاقات له ورځو، تۀ هم راځه. مضارف شاه اپريدے او ايم ار خټک دغه څو ملګري تېر ماسختن ايم اين اېز هاسټل ته ورسېدو. په لاره لاره مو فېصله وکړه چې ولي خان سره به د "خپل پرېس" په موضع خبرې کوو. مونږ چې ګَنټې وغږوله نو بشير خان مټه د يو ساده کليوال بانډيځي په شکل او لباس کښې رابښکاره شو، دے دغه وخت "سنېټر ؤ. مونږ ورته د راتلو مقصد بيان کړو وئيل ئې "خان صاحب خو نن ټوله ورځ مصروفه تېره کړه، ايله اوس ئې ډوډۍ وخوړله، بيا به ارام کوي". ما ورته ووې زمونږ څۀ خاص کار نشته، دلته اسلام اباد کښې اوسېږو بيا به چرته پېښه وکړو. بشير خان مټه راته ووې نا اوس چې تاسو دومره کړاؤ کړے دے نو ملاقات ضرور وکړئ خو اووۀ اتۀ منټه پس ترې په خپله د تلو اجازت واخلئ.

کمرې ته ورننوتلو ولي خان لاسونه وچول په مېز مالټې، کينو، ګوره، وسکې، د غوزانو چکۍ او دغسې نوره وچه مېوه دانه پرته وه. د روغ جوړ، سلام کلام نه پس ولي خان ووې "دلته خو مونږ په بېديا پراتۀ يو، يوه کېفي ټېريا ده بس د دوو تنو خوارۀ راپېرزو کړي، خېر دے خواست به ورته وکړو تاسو له به څۀ غم وکړي".

مونږ ورته خبره خلاصه کړه چې مېلمانۀ نۀ يو، دلته اسلام اباد کښې مېشته يو، ماسخوتنۍ مو خوړلې ده. ولي خان په خندا شو "نو بيا خو دا مېوه دانه واخلئ، خبرې به هم کوو او خُلۀ به هم خوږوو".

ما تر ټولو اول ولي خان سره د اسلام اباد په حواله خپله او د ملګرو پېژندګلو وکړه چې زۀ د ريډيو پاکستان پښتو خبرونو څانګه کښې يم. غني خټک صاحب قامي اسمبلۍ کښې ملازمت کوي وغېره وغېره. ولي خان زر ووې "دے خو بيا زمونږ ملګرے شۀ" ما وئيل ټول سرکاري ملازمان يو، ولې دلته مونږ د پښتو يو ادبي تنظيم پښتو ادبي سوسائټۍ په نوم جوړ کړے دے. غني خټک صاحب ورته ووې ادبي سوسائټۍ اسلام اباد کښې باچا خان ادبي کانفرنس کړے دے. وخت په وخت مو ځينې مشران لکه افضل خان لالا، افراسياب خټک هم رابللي دي، غواړو چې تاسو هم بې نظير بوټو سره په دغه مابنام د ملاقات په "خبر" ولي خان صاحب خبرې ته خُلۀ جوړوله چې دې مهال کښې ټېليفون راغے، ټېليفون ته ئې غوږ کېښود. (غالباً د چا اخبار نمائنده ؤ) بيا ئې ورته ووې "هو! وزيراعظمې سره د هغې په بلنه ملاقات وشو، تاسو د دې تفصيل د نوابزاده نصرالله خان څخه وپوښتئ! هغۀ د جرګې مشري کوله" او دغه زمونږ د پوښتنې جواب هم ؤ.

په دغه موقع ما د ولي خان څخه پوښتنه وکړه "دا رښتیا دي چې د افغانستان په چارو کښې د پاکستان فوځ ککړ نهٔ دے؟" په دې ولي خان لږ سنجیده شو، بیا ئې ووې "بچے تا خو وئیل چې په ریډیو پاکستان کښې کار کوم؟" په دې خبره ما ځان را ټول کړو" او جې! د ریډیو پاکستان پښتو خبرونو په ځانګه کښې وظیفه ترسره کوم خو تپوس ځکه کوم چې ننني خبرونو کښې د وزیراعظمې بې نظیر بوټو په حواله دا خبره شوې ده. ولي خان مسکے شو "وزیراعظمه غریبه څهٔ خبر ده خو څنګه چې ورته وېنا شوې ده هغسې به ئې وئیلي وي". بیا ئې ووې وزیراعظمې سره زمونږ ننني ملاقات خو هم په دغه مسئله ؤ. بې نظیر بي بي ووئیل تاسو له مې کړاؤ ځکه درکړو چې مشران ئې ما په دې راز پوهه کړئ هغه دا چې ماسره زیاتره په ټېلیفون خبرې وشي او په ځینو اهمو او حساسو مسئلو هدایات راکولے شي خو کله چې وضاحت وغواړم نو ټېلیفون بند شي؟".

په دغه حقله ولي خان د خپل ردعمل څرګندونه مونږ ته داسې بیان کړې وه.

"ما بې نظیر ته ووې ستا نه مخکښې دلته یو وزیراعظم ؤ "جونېجو" ما به ورته په عامو جلسو کښې د شګو بوجۍ وئیل چې دا جنرل صاحب (ضیاءالحق) ځان ته ډال کړے دے خو زهٔ چې اسلام اباد ته (د قامي اسمبلۍ ممبر په توګه) راغلم نو خبر شوم چې دا شریف سړے (محمد خان جونېجو) خو ډېر کلک او مضبوط سړے ؤ. جنرل ضیاءالحق ورته د وزیراعظم د کار وظیفه ښودله نو دهٔ ورته یو دم د وزیراعظم ذوالفقار علي بوټو "پروټوکول" وړاندې کړو "آئینه" ئې ورته مخامخ کړه چې د وزیراعظم کار او اختیار دا وي.

بیا ما (ولي خان) بې نظیر بي بي ته ووې:
ګوره! دا جونېجو خو په غېر جماعتي ټاکنو کښې وزیراعظم شوے ؤ، تهٔ یوه منتخب وزیراعظمه ئې، د یوې لویې سیاسي ډلې (پي پي پي) سر مشره هم ئې او لویه خبره دا چې د ښاغلي ذوالفقار علي بوټو لور هم ئې، نو تهٔ یواځې شونډې مهٔ سرې کوه، لږې دا سترګې هم راسرې کړه.."

بیا ما (ولي خان) بې نظیر بي بي ته ووې:

ګوره! دا جونېجو خو په غېر جماعتي ټاکنو کښې وزیراعظم شوے ؤ، تهٔ یوه منتخب وزیراعظمه ئې، د یوې لویې سیاسي ډلې (پي پي پي) سرمشره هم ئې او لویه خبره دا چې د ښاغلي ذوالفقار علي بوټو لُور هم ئې، نو تهٔ یواځې شونډې مهٔ سرې کوه، لږې دا سترګې هم راسرې کړه.."

مطلب ئې دا چې "تربوزک وهلو قواؤ" ته خپل سیاسي زور وښایه.

ښاغلي ولي خان د افغانستان په چارو کښې د لاس وهنې په باب ووئیل:

"مونږ د پاک فوځ سر نهٔ شو وینځلے، حقیقت لکه د نمر ښکاره دے، دنیا ړنده نهٔ ده، دا هر څهٔ په خپلو سترګو وینې ګوري... مونږ خو ورته په چغو نعرو دا خپل زړهٔ سترے کړو، څوک ئې اوري؟ یوه ډېره خطرناکه لوبه روانه ده. ماسره غم دے چې دا اور به یواځې زمونږ صوبه نهٔ، ټول ملک لولپه کړي خو وخت به تېر وي".

افغانستان کښې چې ۱۹۸۹-۱۹۸۸ کوم لوټ مار او الغاؤ تلغاؤ جوړ ؤ، په دغه بابله ولي خان ووې:

"د پښتو يوه ټپه به وئيلې شوه:

خدايه! زړې پټنې تازه کړې

چې د لغړو زلمو قدر پيدا شينه

ښاغلي ولي خان زياته کړه "تاسو خيال وکړئ دا لغړ زلمي هغه رټلي کړلي خلق دي چې د هر قسمه اخلاقي او قانوني دائرې نه چورلټ وتي دي او په چمتار يو تار هم نۀ لري. د دې قام شرمو نۀ په خپله حيا عزت څۀ کار وي نۀ د بل. اوس د دغو بدمعاشانو او اجرتي قاتلانو مفرورانو لاس بر شوے دے، کۀ چا له د کټ بازو په لاس ورځي او کۀ د تاؤنې ور خو څۀ چې مومي هغه راتښتوي او د دمړي ادېلو په نرخ ئې خرڅوي".

ماته د خپل تړۀ او ماما سيد محمد امين خوګيانړي د لور "نجيبه" وير فرياد راپه زړۀ شو، وئيل ئې "دا لا څنګه قام دے خپل فصلونه او باغونه ئې لتاړ کړل، ميوزيمونه او کتابتونو نه ئې وسوزول".

خو د پښتون يا افغان سر په دې نۀ خلاصيږي چې دا ناکاره خونړي لوبه د چا د لاسه وشوه او د چا په لمسه وروښه يو بل سره غوښنه چاړۀ شوي دي.

ښاغلي عبدالولي خان سره ۸۹-۱۹۸۸ ايم اين اې هاسټل اسلام اباد کښې دغه ملاقات په څو څو لحاظه ډير خوږ او په زړۀ پورې ؤ. د هغۀ د شخصيت ځينې داسې اړخونه هم راښکاره شو چې په عمومي ډول د عام اولس نه پټ وي لکه د قرآن کريم او احاديثو په بابله پوهه او معلومات، ځينې اوږدۀ اوږدۀ آيتونه ئې داسې په فر فر لوستل لکه چې ښۀ پوخ حافظ قرآن وي او وروستو راته معلومه شوه چې ولي خان د قرآن پاک ترجمې او تفسير وئيلو سره سره حفظ هم کړے ؤ، وئيل ئې:

"په قامي اسمبلۍ کښې مې چرته خپله وينا کښې د قرآن پاک د آيت حواله ورکړله، د اجلاس نه پس يو "مولانا صاحب" څۀ حيراني او خوشحالي ښکاره کړه او مبارکي ئې راکوله چې تۀ خو ماشاءالله په قرآن هم پوهيږې. ما ورته وئيل مولانا صاحب! مونږ څۀ کافران خو نۀ يو، د خپل قام اولس خبره کوو".

"په قامي اسمبلۍ کښې مې چرته خپله وينا کښې د قران پاک د آيت حواله ورکړله، د اجلاس نه پس يو "مولانا صاحب" څۀ حيراني او خوشحالي ښکاره کړه او مبارکي ئې راکوله چې تۀ خو ماشاءالله په قرآن هم پوهيږې. ما ورته وئيل مولانا صاحب! مونږ څۀ کافران خو نۀ يو، د خپل قام اولس خبره کوو".

دغه ملاقات ښۀ اوږد هم شو، مونږ ته د بشير خان مته خبره ياده وه. په اول سر کښې چې اتۀ لس منټه تېر شو نو مونږ د تلو اجازت اخستو، ولي خان وخندل "اوس چې خبرې چک واچوو نو تاسو وايئ چې ځو؟ کښېنئ سړو! يو بغرۍ بغرۍ مجلس به وکړو. زۀ خو ستاسو په راتګ خوشحاله شوم".

لکه چې مونږ ته ئې د دې احساس يادګيرنه راکوله چې:

"بيا به جهان راپسې ګورئ نۀ به يمه"